# د دوزخي درې وَيل حقدار څوک؟

## 09-NOVEMBER-2023



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پہ09 نومبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د دوزخي درېِ وَيل حقدار ثوک؟

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د دوزخي درې ويل تعارُف
- ...د حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د الله نه ويره
- ... د بےلمَانځه درې بدبختياني
- ... د قبر ملګرے څوك؟

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په ما باندې يو ځل درودِ پاک اولوستلو الله پاک په هغه باندې 10 رحمتونه نازلوي او چا چې 10 ځله اولوستلو، الله پاک په هغه باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې 100 ځله درود شريف اولوستلو، الله پاک به د هغه د دواړو سترګو په مينځ کښې اوليکي چې دا بنده د نفاق او د دوزخ د اور نه آزاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره اوساتي.[1]

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو خدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**په حديثِ پاک کښې دي:** اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[3]

---

[1]... معجم اوسط، من اسمه محمد، جلد:5، صفحه:252، حديث:7235۔

[2]... نورِ ايمان، صفحه:57۔

[3]... بخاري، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه نِيَّت ښده جَنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د نظر ښکته ساتلو سره به په تَوَجُّه سره بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم په خاطر چې څومره وخت کيدے شي د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې به کښينم ❀ د ضرورت مطابق به د ځان راټولو سره نورو ته ځائے پريږدم ❀ که ديکه وغيره راکړے شوه نو صبر به کووم ❀ چا ته په يو نظر د کتلو، رټلو، جګړې نه به ځان ساتم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اوويريږئ...! د دې اور نه

په وړومبئ سيپاره، سورۀ بقره، آيت: 24 کښې اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۚۖ (پاره:1، البقره:24) | **مفهوم ترجَمۀ کنزُ العِرفان:** نو د هغه اور نه اوويريږئ د کوم خشاک چې انسانان او کاڼي دي. |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آيت مبارک کښې د دوزخ وحشتونه بيان کړے شوي دي چې د دوزخ اور داسې خطرناک دے چې د دې خشاک انسانان او کاڼي دي، زمونږ د دُنيا چې دا کوم اور دے دا کاڼے خو ګرموي خو سوزوي ئې نه خو د دوزخ اور دومره خطرناک دے چې کاڼي هم سوزوي.[1] بيا ورسره په دې آيت مبارک کښې صفا صفا حکم شوے دے چې اے خلقو! د دوزخ نه اوويريږئ! او دوزخ ته د بوتلونکو

[1]...تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، البقرہ، زیرِ آیت:24، جلد:1، صفحہ:225 بتغیر قلیل۔

اعمالو نه د ځان ساتلو پوره کوشش اوکړئ!

مغفرت کا ہوں تجھ سے سُوالی
پھیر نا اپنے دَر سے نہ خالی
مجھ گنہگار کی اِلتجا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے
نارِ دوزخ سے مجھ کو اماں دے
مغفرت کر کے باغِ جناں دے
کردے رحمت مری اِلتجا ہے
یاخُدا تجھ سے میری دُعا ہے[1]

## د دوزخ مختصر تعارف

په **بهارِ شریعت** کښې دي: ❀ دوزخ هغه ځائے دے چرته چې د الله پاک د قهر او غضب ظهور دے ❀ د دوزخ غرغنډې به د اوچتو اوچتو بنګلو برابر اوچتیږي[2] ❀ انسانان او کاڼي د دې [دوزخ] خَشاک دے[3] ❀ دا د دُنیا چې کوم اور دے، د دوزخ د اور په 70 حصو کښې یوه حصه ده[4] ❀ چا له چې به په دوزخ کښې د ټولو نه د کمې درجے عذاب ورکولے شي، هغه ته به د اور پیزار اچولے شي، د کوم سره چې به د هغه دماغ داسې اوخوټ کیږي لکه څنګه چې د اوسپنې پتیله خوټ کیږي، هغه به دا ګڼي چې د ټولو نه زیات عذاب په هغه باندې دے، حالانکه په ده باندې به د ټولو نه کم عذاب وي.[5] ❀ په **حدیثِ پاک** کښې دي: دا د دُنیا اور (د کوم د ګرمئ او تَپ چې چا ته هم پته نشته، دا اور) هم د خدائے پاک نه سوال کوي چې دے دې بیا دوزخ ته نه بوتللے کیږي.[6]

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:136 ملتقطًا۔
[2] ...پاره:29، المرسلات:32۔
[3] ...پاره:1، البقره:24۔
[4] ...مسلم، کتاب الجنة وصفة نعیمها واهلها، باب فی شدة حر نار جهنم...الخ، ص:1092، حدیث:2843 ملتقطًا
[5] ...مسلم، کتاب الایمان، باب اهون اهل النار عذابا، صفحه:102، حدیث:213۔
[6] ...ابنِ ماجه، کتاب الزهد، باب صفة النار، صفحه:700، حدیث:4318۔

آه! حيرانتيا ده په انسان باندې چې هغه دوزخ ته بوتلونکے کار کوي او د هغه اور نه نۀ ويرېږي، د کوم نه چې اور هم ويرېږي او پناه ترې غواړي.[1]

## د دوزخيانو ډير بد حال

صحابئ رسول حضرت عمر بِن عاص رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: دوزخيان به (د دوزخ د عذاب نه تنګ راشي نو) د دوزخ په دروازه باندې مقرره فرښته حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام رااوبلي، حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام به هغوئي ته څه جواب ورنکړي، تر دې پورې چې د 40 پورې به را بلل کوي، بيا به په جواب کښې دوئي ته صرف دومره اووئيل شي: اِنَّكُمْ مَّاكِثُوْنَ يعني تاسو به هميشه دلته اوسئ. بيا به دوزخيان الله پاك رابلل شروع کړي، الله پاك به هم دوئي ته جواب نه ورکوي، آخر دا چې د اوګړدې مودې نه پس به اوفرمائيل شي: رټلے شوو په دوزخ کښې پراته اوسئ! زما سره خبره مه کوئ![2]

په بعضو **رواياتو** کښې دي: دوزخيان به زر کاله چغې او سورې وهي خو څه فائده به نه ور رسي، بيا به په خپل مينځ کښې اووائي: مونږ به په دُنيا کښې په مشکلاتو باندې صبر کولو نو د مشکلاتو نه به خلاصے ميلاويدلو، نو دوئي به د زرو کالو پورې صبر اوکړي، بيا به هم په عذاب کښې څه کمے نه راځي، بيا به دوئي د الله پاك نه باران اوغواړي. د زرو کالو پورې به باران غواړي، آخر زر کاله پس به الله پاك جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام ته اوفرمائي: اے جبريل! دوئي څه غواړي؟ جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام به عرض اوکړي: مولٰی! تا ته ښه معلوم دي، دوئي باران غواړي. بيا به د دوزخيانو د پاره د سور رنګ وريځ را اوليږلے شي، دوئي به دا ګڼي چې باران کيږي خو د دې وريځې نه به د خچرو په شان غټ غټ لړمانان را غوزار شي، دا به دومره خطرناك وي چې يو ځل

---

[1] ...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:163 تا 165، حصه:1 بتغير قليل۔

[2] ...تنبيه الغافلين، باب صفة النار اهلها، صفحه:31 خلاصةً۔

چيچل اوکړي نو د زرو کالو پورې به د هغې تکليف نه ختمېږي، دوزخيان به بيا د الله پاك نه باران اوغواړي، په دې ځل باندې به د دوئي د پاره د تور زنګ وريځ را اوليږلے شي، دوئي به دا ګڼي چې اوس به باران اوشي خو د دې وريځې نه به د اوښ د څټ په شان غټ غټ ماران راغوزار شي کوم چې به دوئي چيچي.[1]

په يو **روايت** کښې دي: هغه خلق د کومو د پاره چې د دوزخ حکم واوروله شي، کله چې هغوئي د دوزخ په لور بوتلے شي، دوئي به دوزخ او د هغې عذابونه د نزدې نه اووينې نو حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام ته به عرض اوکړي: اے مالِك! مونږ ته په خپل ځان باندې د ژړيدلو اجازت راکړئ! حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام به دوزخ ته د غورځولو نه مخکښې هغوئي ته د ژړا موقع ورکړي، دا خلق به په ژړا شي تر دې پورې چې اوښکې به ئې ختمې شي او د هغوئي د سترګو نه به وينې روانې شي، حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام به اوفرمائي: څومره ښکلې ژړا ده که دا په دُنيا کښې وې....!! که تاسو په دُنيا کښې د الله د ويرې نه دومره ژړلي وے نو نن به د دوزخ اور تاسو ته در رسيدے...!! بيا به حضرت مالِك عَلَيْهِ السَّلَام دوئي دوزخ ته غوزار کړي.[2]

| | |
|---|---|
| خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| میرا نازُک بدن جہنّم سے | از طفیلِ رضا بچا یارَبّ![3] |

## دوزخ ډېر زيات سخت دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! دوزخ څومره ډېر سخت دے...!! دا هاغه خبرې دي کومې چې مونږ ته د روايتونو په ذريعه معلومې شوي دي، ګڼې په

[1] ...تنبیہ الغافلین، باب صفة النار اہلہا، صفحہ:32۔
[2] ...تنبیہ الغافلین، باب صفة النار اہلہا، صفحہ:35 خلاصةً۔
[3] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:80۔

حديث پاك کښې دي: تاسو چې څومره غوارئ دوزخ ياد کړئ! تاسو چې د دوزخ د کوم څيز تَصَوُّر جوړ کړئ، دوزخ د هغې نه ډير زيات سخت دے.[1]

هائے حُسنِ عمل نہیں پلّے | حشر میں میرا ہوگا کیا یارَبّ!
گرمیٔ حشر، پیاس کی شِدَّت | جامِ کوثر مجھے پلا یارَبّ![2]

## د دوزخ نه د بچ کيدو پوره کوشش اوکړئ!

د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: (اے خلقو!) د جنت حاصلولو د پاره پوره کوشش اوکړئ او د پوره کوشش کولو سره د دوزخ نه لرې تښتئ...! بے شکه د جنت طلبګار چرې هم غافله نه وي، بے شکه د دوزخ نه لرې تښتيدونکے چرې هم د غفلت په خوب نه اوده کيږي، بے شکه آخرت د ناخوښه کارونو نه ډَک دے (يعني په آخرت کښې د کاميابئ د پاره د نفس خواهشونه پريښودل وي) ولې دنيا د خوندونو او خواهشونو نه ډکه ده، بس د دُنيا دا مزې او خواهشونه دې تاسو هيڅ کله هم د آخرت نه نۀ غافله کوي.[3]

راځئ! په شريکه د ګنهګارانو بخښونکي آقا، جنت ته د بوتلونکي آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې فرياد کوو:

میں مجرم ہوں جہنّم میں اگر پھینکا گیا مجھ کو | ہلاکت ہوگی ہائے! کیا کروں گا یارسولَ اللہ!
لپک کر آگ کے شعلے لپٹتے ہوں گے، بربادی | کرم کردو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!
اندھیری آگ ہوگی، روشنی بالکل نہیں ہوگی | کرم کردو یہ سب کیسے سہوں گا یارسولَ اللہ!

[1]...تنبيه الغافلين، باب صفة النار اهلها، صفحه:33۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:80۔
[3]...کنز العمال، کتاب المواعظ و الرقائق، الفصل العاشر، جز:15، ج:8، ص:392، حديث:43591

وہاں کانوں میں، آنکھوں میں، دَہن میں پیٹ میں بھی آگ
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یا رسولَ اللہ!
فرشتے ڈانٹتے ہوں گے، ہتھوڑے مارتے ہوں گے
کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یا رسولَ اللہ!
وہاں سانپ اور بچھو بھی مسلسل ڈس رہے ہوں گے کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یا رسولَ اللہ!
غذا دوزخ کی تھوہر اور اُوپر کھولتا پانی کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یا رسولَ اللہ!
نہ مانگے موت آئے گی، نہ بیہوشی ہی چھائے گی کرم کر دو یہ سب کیسے سہوں گا یا رسولَ اللہ!
جو تم چاہو گے تو ہوں گی مری سب مشکلیں آساں وگرنہ نار میں، میں جا پڑوں گا یا رسولَ اللہ!
تمہارا ہوں غُلام اور ہے غُلامی پر مجھے تو ناز
کرم سے ساتھ جنّت میں چلوں گا یا رسولَ اللہ![1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دوزخ د دَرې وَيل تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د دوزخ ډېرې زياتې دَرې دي، په دې کښې يوه دره

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 324 325 ملتقطًا۔

ده، د کومې نوم چې وَيل دے ❁ دا د دوزخ ډېره زياته خطرناکه دره ده ❁ په دې کښې په مختلف قسم عذابونه وي ❁ په بعضې روايتونو کښې دي: وَيل يو کوهے دے، چرته چې به د دوزخيانو وينې او زغوې جمع کيږي[1] ❁ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې کافران دوزخ ته غورځولے شي نو هغوئي به د دوزخ ژور والي ته د پريوتو نه وړاندې تر 40 کالو پورې په وَيل نومې دَره کښې وي.[2]
❁ حضرت عطا بن يسار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: وَيل نومې د دوزخ دا دره دومره خطرناکه ده چې که چرې په دې کښې غرونه واچولے شي نو هغه به هم د ګرمۍ نه ويلې شي.[3]

د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! الله پاک دې مونږه د دوزخ نه او د دوزخ د دې خطرناکې دَرې نه محفوظه کړي.

گنہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یا ربّ!
برائیوں پہ پشیماں ہوں رحم فرمادے | ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یا ربّ![4]

## د وَيل حقدار جوړوونکي اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دوزخ د دې خطرناکې درې حقدار څوک دے؟ هغه کوم بد اَعمال دي، کوم چې دې درې ته د بوتللو سبب جوړيدے شي؟ راځئ! اوروئې او په دې نيت سره ئې اورو چې مونږ به د دې بدو کارونو نه د بچ کيدو سره ځان د دوزخ نه د بچ کولو او د جنت حقدار جوړولو کوشش کوو. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم!

---

[1] … معجمِ کبیر، جلد:4، صفحه:544، حدیث:9015۔
[2] … ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب و من سورة الانبیاء، صفحه:730، حدیث:3164۔
[3] … موسوعه ابنِ ابی الدنیا، صفة النار، جلد:6، صفحه:406۔
[4] … وسائلِ بخشش، صفحه:78۔

## (1) کافِران د وَيل حقدار دي

الله پاک ارشاد فرمائي:

فَوَيۡلٌ لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنَ النَّارِ ﴿۲۷﴾ مفهوم ترجَمۂ کنزُ العِرفان: نو د کافِرانو د پاره د اور خرابي ده.

(پاره:23، الصاد:27)

معلومه شوه چې کفر د دوزخ وَيل نومې درې حقدار جوړونکے سبب دے.

## د کُفر نه نفرت کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږه مسلمانان يو، يقيناً دا د الله پاک ډير لوئے نعمت دے، زمونږه کلمه وئيل، مسلمانيدل به اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيم! د دوزخ نه د بچ کيدو سره جنت ته د تللو ذريعه جوړيږي خو ياد ساتئ! د دوزخ نه د بچ کيدو او د جنت حقدار جوړيدلو د پاره صرف مسلمان کيدل کافي نه دي بلکه اِيمان سلامته وړلو سره د دنيا نه تلل هم ضروري دي.

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ايمان فِکر اوکړو، الله پاک مونږ له د ايمان دولت راکړے دے، د دې قدر هم اوکړو، د هغه شکر هم ادا کړو او ورسره ورسره د کفر نه نفرت هم کوو. په **حديثِ پاک** کښې دي: په چا کښې چې 3 خبرې وي، هغه د ايمان خوږ والے بياموي (په دې 3 کښې ئې يوه خبره دا ارشاد اوفرمائيله:) چې هغه د ايمان نه پس د کفر په لور کرځيدل داسې ناخوښه ګڼي، لکه څنګه چې په اور کښې غورځيدل نه خوښوي.[1]

معلومه شوه: ايمان والا پاتې کيدلو، د ايمان د سلامتيا سره قبر ته د کوزيدو او په دې ذريعه د جنت حقدار جوړيدلو د پاره ضروري دي چې مونږه د کفر نه هر وخت نفرت کوو.

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الایمان، باب حلاوة الایمان، صفحه:74، حديث:16 ملتقطًا۔

## د ايمان د سلامتيا فِکر اوکړئ!

آه! افسوس! نن سبا د ايمان د سلامتيا فِکر د ډيرو کمو خلقو سره وي ❀ عموماً خلق په خپل نفس باندې باور کوي ❀ د بد مذهبو او د بدو خلقو سره کښيناستل ❀ په ګناهونو کښې مصروف اوسيدل ❀ مونږه څه زده کوو، د چا نه ئې زده کوو، وغيره بالکل فِکر نه کول ❀ د عِلمِ دِين نه لرې تښتيدل ❀ د غير مسلمو نقل کول ❀ د هغوئي لټريچر ښه په درز کښې لوستل ❀ د غير مستندو خلقو او غير مستندو طريقو (مثلاً سوشل ميډيا، انټرنيټ، يوټيوب، فيس بُک وغيره) په ذريعه د دِين زده کولو کوشش کول وغيره د ايمان نه د لاس وينځلو اسباب دي خو افسوس! نن سبا زيات تر خلق په دې کارونو کښې اخته په نظر راځي.

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک مونږ له د ايمان دولت راکړے دے نو مونږ له د دې قدر کول پکار دي، د دې حفاظت کول زمونږه ذمه واري ده، دې د پاره مونږ له پکار دي چې د الله پاک د پټ تدبير نه هر وخت ويريږو او هر هر ساعت د ايمان د سلامتيا فِکر کوو.

## د پټ تدبير نه نۀ ويريدل سخت نقصان ورکوونکي ده

په قرآنِ کريم کښې دي:

فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العِرفان: نو د الله د پټ تدبير نه صرف تباه کيدونکي خلق نه ويريږي.

(پاره:9، الاعراف:99)

علمائے کرام فرمائي: د الله پاک د پټ تدبير نه بالکل نه ويريدل ګناهِ کبيره [يعني لويه ګناه] ده. [1]

---

[1] ...جهنم ميں لے جانے والے اعمال، جلد:1، صفحه:291۔

## د حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د الله پاک نه ويره

حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير د اوچتې مرتبې عالِمِ دِين، د اوچتې درجې مُحدِّث او ولئ کامِل دے، د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په باره کښې نقل دي چې د هغوئي ملا په ځلمي توب کښې ټيټه شوې وه. خلقو څو ځله د دې وجې نه د ځان خبرولو کوشش اوکړو خو حضرت سفيان ثوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هيڅ جواب ورنکړو. يو ځل د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه شاګرد بيا بيا د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: زما يو استاذ وو، هغه په ډيرو لويو علمائے کرامو کښې شميرلے کيدلو، ما د هغوئي نه ډير علوم زده کړي وو، کله چې د هغوئي د وفات وخت رانزدې شو نو ما ته ئې اووئيل: اے سفيان! آيا تا ته پته ده چې زما سره څه معامله اوشوه؟ ما تر 50 کالو پورې د الله مخلوق ته د الله پاک اطاعت او د ګناهونو نه د بچ کيدو تلقين کولو خو افسوس! نن چې زما د ژوند ډيوه مړه کيدونکې ده نو الله پاک زه د خپلې بارګاه نه د دې وئيلو سره راويستم چې تهٔ زما بارګاه ته د راتللو اهليت نه لرې.

د خپل استاذ دا خبره چې مې واوريده نو د عِبرت په وجه زما ملا را ماته شوه، د کومې د راماتيدو آواز چې هلته موجودو خلقو هم واوريدو. ما د الله پاک د ويرې نه اوښکې توئيولې او سخت بيمار شوم.[1]

فِکرِ مَعَاش بد بَلا، ہَولِ مَعَاد جاں گُزا

لاکھوں بَلا میں پھنسنے کو رُوح بدن میں آئی کیوں؟

وضاحت: يعني د ژوند اسباب مثلاً د خوراک څښاک وغيره فِکر! د قبر د تنګيدو او د قيامت د سختو ويره! داسې په لکونو بلاګانو کښې د انښتو د پاره رُوح بدن ته ولې راغلے وو...؟

---

[1]... خوفِ خُدا، صفحه:80۔

الله پاک دې مونږ ته د ایمان د حفاظت کولو، د ایمان د سلامتیا د پاره د کوشش کولو او د کُفر په لور د کرځیدو نه همیشه د ویریدو توفیق را کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ایماں پہ رَبِّ رحمت دے دے تُو استقامت | دیتا ہوں واسطہ میں تجھ کو ترے نبی کا[1]

## (2): په ناپ تول کښې کمے کول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دوزخ د خطرناکې دَرې وَیل حقدار جوړولو والا دویم بد عمل دے: په ناپ تول کښې کمے کول. الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَۙ(۱) الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ٘ۖ(۲) وَ اِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَؕ(۳)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: د کم تَلونکو د پاره خرابي ده. هغه خلق چې د نورو نه په تول اخلي نو پوره وصولوي او چې کله هغوئي له ناپ یا تول ورکوي نو کم ورکوي.

(پاره:30، المطففین:3.1)

معلومه شوه څوک چې په ناپ تول کښې کمے کوي، هغوئي هم د دوزخ د خطرناکې دَرې وَیل حقداران دي.

په تفسیرِ صراط الجنان کښې دي: ناپ تول ډیره اَهَمَّه مُعامَله ده، تقریباً ټولو خلقو ته څه نا څه خرڅول او اخستل وي او د زیات تر څیزونو خرڅول او اخستل په دې ناپ کولو

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:178۔

او تَلَلو باندېِ وي، (دېِ د پاره په قرآنِ مجید کښېِ په ډېرو ځایونو کښېِ د دېِ اهمیت بیان کړے شوے دے). د صحیح ناپ کولو او تَلَلو انجام په دُنیا کښېِ هم بهتر وي چېِ ❀ په دېِ باندېِ د خلقو اعتبار قائم اوسي ❀ په تجارت کښېِ ښه اضافه کیږي ❀ او په رزق کښېِ برکت وي.

او په آخرت کښېِ به هم یقیناً بهتر وي چېِ ❀ په دېِ لړ کښېِ به د خلقو په هغه باندېِ څه حق نه وي او داسېِ به خلق د خپل حق غوښتلو د پاره هغه نه رانیسي ❀ دا به د حرام رزق [پخپله] د خوړلو او په [نورو] د خوړلو د عذاب نه بچ شي ❀ او د ده نیک اعمال به محفوظ پاتې وي ❀ کوم خلق چېِ په ناپ تول کښېِ کمے کوي، د هغوئي د پاره سخت او دردناک عذابونه دي.[1]

## په ناپ تول کښېِ د کمي یو څو صورتونه

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❀ په څیزونو کښېِ ملاوټ کول هم د ناپ تول په خیانت کښېِ شامِل دے ❀ داسېِ قصاب کوم چېِ د غوښېِ سره داسېِ هډوکي هم تلي په کومه کښېِ چېِ هډوکي تَلَل د عُرف خلاف دي، دا هم په ناپ تول کښېِ خیانت دے ❀ دغه شان چېِ څوک د کپړے اخستلو په وخت کپړه سسته نیسي او ناپ کوي خو د خرڅولو په وخت ئې د ښه راښکلو سره ناپ کوي د پاره د دېِ چېِ د کپړېِ په مقدار کښېِ فرق راشي، دا هم په ناپ کښېِ د کمي یو شکل دے کوم چېِ انسان د دوزخ حقدار جوړوي.[2]

---

[1]… تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۂ مطففین، زیرِ آیت:1 تا3، جلد:10، صفحہ:571 572 ملتقطًا

[2]… احیاء العلوم، کتاب آداب الکسب و المعاش، باب الثالث فی بیان العدل، جلد:2، صفحہ:100 ملتقطًا

## ناپ تول کښې د کمې وبال

یو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: زه د خپل یو ګاؤنډي د تپوس د پاره لاړم، کوم چې به غنم خرڅول، کله چې زه د هغه سر ته کښیناستم نو د هغه نه مې بیا بیا دا واوریدل: د اور 2 غرونه، د اور 2 غرونه. ما چې کله د هغه د کور والؤ نه د دې په باره کښې پوښتنه اوکړه، نو هغوئي اووئیل چې ده سره د غلے ناپ کولو 2 پیمانے وے، ده چې به کله د چا نه غنم اخستل نو په هغه غټه پیمانه به ئې ناپ کول او چې کله به ئې په چا خرڅول نو په وړه پیمانه به ئې د ناپ کولو سره خرڅول. هغه بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: چې بیا زه پوهه شوم چې دغه 2 لوښې هغه ته د اور په شکل کښې په نظر راځي.[1]

د الله پاک پناه...!! د الله پاک پناه...!! اے عاشقانِ رَسُول! غور خو اوکړئ! که یو ګس په ناپ تول کښې کمے هم کوي نو هغه به په ورځ کښې څومره ګټي؟ دغه یو څو سوه یا یو څو زره روپۍ، خو د دې عارضي، فاني، یو څو سِکو وبال ته خو اوګورئ! په ځنکدن کښې هم مشکلات، په قبر کښې هم عذاب، په حشر کښې هم عذاب او د دوزخ حقداریدل د دې نه جدا ده. د یو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه عادت وو چې کله به هم هغوئي څه څیز اخستلو نو نیمه دانه به ئې کم اخستو او کله چې به ئې څه څیز خرڅولو نو یوه دانه به ئې زیاته ورکوله او فرمائیل به ئې: خرابي ده د هغه چا د پاره کوم چې د یوے دانے په بدل کښې داسې جنت خرڅوي د کوم پلن والے چې د زمکې او آسمان نه زیات دے، **څومره په نقصان کښې دے هغه ګس کوم چې د وَیل (یعنې دوزخ) په بدله کښې طُوبیٰ (یعنې جنت) خرڅوي.**[2]

---

1 ... بَحۡرُ الدُّمُوۡع، الترہیب من الخیانۃ فی المیزان، صفحه:182۔

2 ... احیاء العلوم، کتاب آداب الکسب، باب الثالث فی بیان العدل، جلد:2، صفحه:99۔

الله پاک دې مونږه په ناپ تول کښې د خيانت د ګناه نه محفوظ کړي! کاش! د زړه نه د دُنيا محبت اوځي، يقين اوکړئ! دا صرف د مال محبت دے کوم چې بندګان په قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته کوي. کاش! چې د زړه نه د دُنيا لالچ ختم شي نو مونږ به د ډيرو ګناهونو نه بچ شو.

دل سے مِرے دنیا کی مَحبّت نہیں جاتی
سرکار! گناہوں کی بھی عادت نہیں جاتی
دن رات مسلسل ہے گناہوں کا تسلسل
کچھ تم ہی کرو نا یہ نحوست نہیں جاتی[1]

## (3) په لمُونځونو کښې سُستي کول

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دوزخي دَرې وَيل حقدار جوړولو والا دريم بد عمل دے: **په لمُونځونو کښې سستي کول**. په سيپاره 30، سورۀ ماعُون، آيت: 4 او 5 کښې ارشاد دے:

فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ ۝ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ۝

(پارہ:30، الماعون:4، 5)

**مفهوم ترجَمهٔ كنزُ العرفان:** نو د دغه لمُونځ کوونکو د پاره خرابي ده کوم چې د خپلو لمُونځونو نه غافل دي.

معلومه شوه: څوک چې په لمُونځونو کښې سُستي کوي، په لمُونځ کښې غفلت کوي، هغوئي د دوزخ د وَيل نومې خطرناکې دَرې حقدار دي.

## د لمُونځ نه د غفلت يو څو صورتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د لمُونځ نه د غفلت ډير زيات صورتونه دي، مثلاً ❀ لمُونځ په پابندئ سره نه کول ❀ په صحيح وخت باندې نه کول ❀ فرائض او

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:382۔

واجبات په صحيح طريقه نه ادا کول ❁ د شرعي عذر نه بغير د جَمعې سره نه کول ❁ د لمُونځ پرواه نه کول ❁ په تنهائي کښې قضا کول او د خلقو په مخکښې کول وغيره.

آه! افسوس! د لمُونځ نه د غفلت ډير زيات صورتونه اوس هم زمونږ په معاشره کښې دي ❁ څومره داسې دي کوم چې د لمُونځونو پابندي نه کوي ❁ لمُونځونه قضا کوي ❁ د لمُونځونو فرائض او واجبات صحيح ادا کول خو غټه خبره ده، د مسلمانانو يو شمير داسې دے کومو ته چې د لمُونځونو د فرائضو او واجباتو پوره معلومات هم نه وي ❁ څومره داسې دي کوم چې د لمُونځونو بالکل پرواه نه کوي ❁ کله چې ئې زړه اوغواړي نو اوئې کړي، کله ئې نه کوي ❁ څوک 2 کوي ❁ څوک 4 کوي او زړه مطمئِن کوي ❁ څوک بغير د څه عذر نه جَمعه پريږدي او ❁ د داسې خلقو هم يو لوئے شمير دے کوم چې د جُمعے يا صرف د اختر په ورځ جُمات ته راځي.

## د لمُونځ نه د غفلت وبال

**ياد ساتئ!** لمُونځ د دِين ډير اهم رُکن دے، اللّٰه پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

(پاره:16، مريم:59)

مفهوم ترجَمۀ کنزُ العِرفان: نو بيا د هغوئي نه پس د هغوئي په ځائے هغه نالائقه خلق راغلل کومو چې لمُونځونه ضائع کړل او په خپلو خواهشاتو پسې روان شول نو ډير زر به هغوئي د دوزخ خطرناکې دَرې غَيّ سره ميلاؤ شي.

په دې آيت مبارک کښې د غَـيّ ذِکر شوے دے، حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد

علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **غَيّ** په دوزخ کښې يوه دَره ده د کومې ګرمي او ژور والے چې ډېر زيات دے، په دې کښې يو کوهے دے د کوم نوم چې **هَب هَب** دے، کله چې د دوزخ اور په مړ کيدو شي نو الله پاک دا کوهے برسيره کړي د کوم سره چې هغه د مخکښې په شان غرغندې شروع کړي.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د الله پاک د ويرې نه اولړځيږئ! او د ويريدو سره زر د خپلو ګناهونو نه توبه کړئ! په قرآنِ کريم کښې وئيلے شوي دي چې څوک لمُونځونه ضائع کوي هغوئي د غَـيّ نومې دوزخ د خطرناک کوهي حقدار دي. په دې خطرناک کوهي باندې د پوهه کيدو د پاره چرته د يو دنيائي کوهي په غاړه باندې اودريږئ او د دې ژور والي ته نظر اوکړئ او سوچ اوکړئ چې که چرې د دنيا په دې کوهي کښې قيد کړے شو نو مونږ به آيا دا سزا برداشت کړو؟ که چرې نۀ او يقيناً نۀ نو بيا به د دوزخ د خطرناک کوهي عذاب څنګه برداشت کړے شو!

بے نمازی کی نحوست ہے بڑی مر کے پائے گا سزا بے حد کڑی

## د بے لمَانځه 3 بدبختياني

نقل دي: د قيامت په ورځ به په لمُونځونو کښې سستي کوونکے په دې حال کښې راځي چې د هغه په مخ باندې به 3 کرښې ليکلې وي: **(1)** اے د الله حق بربادوونکيه! **(2)** اے د الله د غضب سره مخصوصه! **(3)** لکه څنګه چې په دُنيا کښې تا **حقُّ الله** يعني د الله پاک حق ضائع کړو دغه شان نن تۀ هم د الله پاک د رحمت نه مايوسه شه.[2]

پڑھتے رہو نماز تو جنت کو پاؤ گے | چھوڑو گے گر نماز جہنم میں جاؤ گے

[1] ...بهارِ شريعت، جلد: 1، صفحه: 434، حصه: 3۔

[2] ...الزواجر، الكبيرة السابعة و السبعون، جلد: 1، صفحه: 256۔

الله پاک دې مونږ ته د رښتيني، پوخ لمُونځ ګزاره جوړيدو توفيق را نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (4-5-6): د وَيل حقدار جوړوونکي 3 اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! نور کوم کوم اعمال دي، کوم چې د وَيل حقدار جوړوونکي دي، واورئ! الله پاک فرمائي:

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ﴿١﴾ الَّذِىْ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَهٗ ﴿٢﴾

(پاره:30، الهمزه:1-2)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: د هغه د پاره خرابي ده کوم چې د خلقو په وړاندې عيب را اوباسي، پشي شا بدي بيانوي کوم چې مال را جمع کړو او هغه ئې د شميرلو شميرلو سره کيښودو.

دا 3 بد اعمال دي، کوم چې د وَيل نومې دوزخي دَرې حقدار جوړونکي دي: (1) مخامخ عيب راويستل (يعنې پيغور ورکول) (2) پشي شاه بدي (يعنې غيبت) کول (3) او مال جمع کول.

افسوس دا درې واړه بدئ نن سبا په مونږ کښې عام دي.

## پيغور ورکول منع دي

په قرآنِ کريم کښې ايمان والؤ ته اوفرمائيلے شول:

وَ لَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ لَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ

(پاره:26، الحجرات:11)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او خپل مينځ کښې چا له پيغور مه ورکوئ او يو بَل په بدو نومونو مه رابلئ.

اوګورئ! په څومره واضحه ټکو کښې مونږ د پیغور ورکولو نه منع کړے شوي یو خو افسوس! نن سبا پیغورونه ورکول، مخامخ غیبت کول ډیر معمولي ګڼلے کیږي ❁ که څوک غریب وي نو هغه له د غریبۍ پیغور ورکولے شي ❁ که څوک لوړ [یعني اوچت قد والا] وي نو پیغور ❁ که څوک غټ وي نو پیغور ❁ که څوک کمزورے وي نو پیغور ❁ که د چا اولاد نه وي نو پیغور ❁ که څوک ان پړهه وي یا لیک لوستل نشي کولے نو پیغور ❁ که د چا خپلوان نه وي نو پیغور ❁ که د یو شاګرد نه غلطي اوشي نو پیغور چې ستا ورومبے استاد یا مور و پلار آیا تا ته دا هر څه ښودلي دي؟ ❁ که د مُرید نه غلطي اوشي نو پیغور چې ستا پیر ستا دا تربیت کړے دے؟ ❁ د یو تنظیم یا تحریک سره د تعلق لرونکي کَس نه که غلطي اوشي نو د هغه تحریک چلولو والا ته پیغور...!!

غرض: پیغور ورکول نن سبا یو فیشن جوړ شوے دے، خلق په خبرو خبرو کښې داسې داسې پیغور ورکوي چې د مخامخ کَس زړه مات شي خو د دې هیڅ احساس نه کیږي.

## پیغور ورکول د اسلامي شان خلاف کار دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! یاد ساتئ! پیغور ورکول یعني [په چا پسې] ټوقې کول د یو رښتیني مسلمان کار نه دے. د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِئِ یعنې مؤمن پیغور ورکوونکے، لعنت ویونکے، د بے حیائي خبرې کوونکے او بدې خبرې کوونکے نه وي.[1]

[1]... ترمذی، کتاب البر و الصلة، باب ما جاء فی اللعنه، صفحه: 481، حدیث: 1977۔

د قرآنِ کریم مشهور مُفَسِّر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡہ د دې حدیثِ پاک په شرح کښې لیکي: یعني دا عیبونه په رښتینې مسلمان کښې نه وي، خپلو عیبونو ته نه کتل او د نورو مسلمانانو عیبونه لټول، هر یو له پیغور کول د **اسلامي شان** خلاف دے.[1]

## د پیغور په جواب کښې پیغور مه ورکوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې څوک مونږ ته پیغور راکړي نو د هغې په جواب کښې هم پیغور نه ورکول او ځان د پیغور ورکولو نه بچ ساتل بهتره خبره ده. رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: که یو کَس تاسو ته ستاسو د څه عیب پیغور درکړي نو تاسو هغه له د هغه د عیب پیغور هیڅ کله هم مه ورکوئ ځکه چې ستاسو به ثواب کیږي او په پیغور ورکوونکي به وبال وي.[2]

الله پاک دې مونږه د پیغور ورکولو یعني په چا پسې د ټوقو کولو، مخامخ د هغه عیب بیانولو او نورو ته د تکلیف رسولو نه د بچ کیدو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## غیبت کول

اے عاشقانِ رَسُول! **غیبت کول** هم د دوزخي دَرې وَیل حقدار جوړوي. د چا عیب د

---

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:469۔

[2]... ابنِ حبان، کتاب البر و الاحسان، فصل من البر و الاحسان، صفحه:255، حدیث:522۔

هغه د بدئ په طور باندې بيانولو ته غيبت وئيلے شي.[1]

آه! افسوس! نن سبا دا آفت هم په مونږ کښې ډير زيات دے، چې دوه کسان يو ځائے کښيني نو غيبتونه او چغلياني شروع کړي، چې دکان کښې کښيني نو غيبت، چې په دسترخوان کښيني نو غيبت، چې ګاډي کښې کښيني نو غيبت، چې دفتر ته راشي نو غيبت، په کور کښې کښيني نو غيبت، تر دې چې په جُمات کښې د لمُونځ په انتظار کښې ناست خلق هم د غيبت کولو سره د دوزخ حقدار جوړيږي.

## د غيبت تباه کارئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! غيبت ډير نقصاني عمل دے. په قرآنِ پاک کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ٘ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّ لَا تَجَسَّسُوْا وَ لَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًاؕ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُؕ وَ اتَّقُوا اللّٰهَؕ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ﴿۱۲﴾

(پاره:26، الحجرات:12)

مفهوم ترجمهٔ کنزُ العرفان: اے ايمان والؤ! د ډير ګمان کولو نه بچ اوسئ بيشکه څه ګمانونه ګناه کيږي او (د پټو خبرو) تَـکل مه کوئ او د يو بَل غيبت مه کوئ آيا په تاسو کښې به څوک خوښوي چې د خپل مړ ورور غوښه اوخوري نو دا به تاسو نه خوښوئ او د اللّٰه نه ويريږئ بيشکه اللّٰه ډير توبه قبلوونکے، مهربانه دے.

شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطار قادري

[1]... بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:532، حصه:16 بتغير قليل۔

دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د غيبت د تباه کارو خلاصه بيانوي او ليکي: ❀ غيبت ايمان کټ کوي ❀ غيبت د بدې خاتمې سبب دے ❀ د ډېر زيات غيبت کوونکي دُعا نه قبليږي ❀ د غيبت سره د لمُونځ روڼې نورانيت ختميږي ❀ د غيبت سره نيکۍ بربادېږي ❀ غيبت نيکۍ سېزي ❀ که غيبت کولو والا توبه هم اوکړي نو بيا به هم په آخره کښې جنت ته ځي. الغرض: غيبت ګناهِ کبيره، قطعي حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے ❀ غيبت د زنا نه زيات سخت دے ❀ د مسلمان غيبت کوونکے د سود نه هم په غټه ګناه کښې اخته دے ❀ غيبت که چرې سمندر ته اوغورځولے شي نو ټول سمندر به بدبوداره شي ❀ غيبت کوونکي ته به په دوزخ کښې مردار خوراک خوړل وي ❀ غيبت د مړ ورور د غوښې خوړلو په شان کار دے ❀ غيبت کولو والا به د قبر په عذاب کښې راګيرېږي ❀ غيبت کولو والا به د تانبے په نوکانو خپل مخ او سينه بيا بيا راشوکوي ❀ غيبت کولو والا به د قيامت په ورځ د سپي په شکل کښې راپاځي ❀ غيبت کولو والا به د دوزخ شادو وي ❀ غيبت کولو والا ته به په دوزخ کښې پخپله خپله غوښه خوړل وي ❀ غيبت کولو والا به په دوزخ کښې په ويشيدلو اوبو او د اور ترمينځه خپل مرګ غواړي او د ده نه به دوزخيان هم بيزاره وي ❀ غيبت کولو والا به د ټولو نه مخکښې دوزخ ته ځي.[1]

د الله پاك پناه!

مجھے غیبتوں سے بچایا الٰہی
پئے مُرشدی دے مُعافی خدایا

گناہوں کی عادت چھڑایا الٰہی
نہ دوزخ میں مجھ کو جلایا الٰہی

[1]… غیبت کی تباہ کاریاں، صفحہ: 26 ملتقطًا۔

الله پاک دې مونږه د غیبت، چغلۍ، دروغو او لوظ ماتولو وغیره ګناهونو نه بچ کړي او د نیک کار کولو سره دې د جنت حقدار جوړیدو توفیق را عطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## مال جمع کول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نور څوک دي کوم چې به د دوزخ د خطرناکې درېٖ وَیل حقدار جوړیږي، الله پاک فرمائي:

الَّذِیۡ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَہٗ ۙ﴿۲﴾ (پاره:30، اَلْھُمَزَہ:2)

مفهوم ترجمۀ کنزُ العرفان: کوم چې مال جمع کړو او د شمیرلو شمیرلو سره ئې کیښودو.

**یاد ساتئ!** د ضرورت په طور مال جمع کول او د شمیرلو سره کیښودل شرعاً جائز کار دے، ګناه نه ده. البته! د مال جمع کولو یو څو صورتونه ډیر بد دي، مثلاً په حرامه ذریعه مال ګټل او جمع کول ❁ د جمع کړے شوي مال نه شرعي حقونه (مثلاً زکوٰۃ وغیره) نه ادا کول ❁ په مال جمع کولو کښې داسې مشغولیدل چې الله پاک هیر کړے شي، د مال په حرص کښې لمونځ، روژې او نورو عبادتونو ته پام نه کول وغیره. که د مال جمع کولو داسې صورتونه وي نو دا ډیر په نقصان او هلاکت کښې غورځوونکے کار دے.

آہ! دولت کی حفاظت میں توسب ہیں کوشاں
حفظِ ایماں کا تصوُّر ہی مِٹا جاتا ہے
یاد رکھّو! وُہی بے عقل ہے اَحمق ہے جو
کثرتِ مال کی چاہت میں مرا جاتا ہے
اپنی اُلفت کا مجھے جام پلادو ساقی
قلب دنیا کی محبت میں پھنسا جاتا ہے [1]

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:432۔

## تاسو هلاک کړئ د مال زيات طلب

الله پاک ارشاد فرمائي:

اَلۡهٰکُمُ التَّکَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾

(پاره30، التکاثر:21)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: تاسو غافل اوساتلئ د مال زيات طلب تر دې چې تاسو د قبرونو څُله اوليدله.

د قرآنِ کريم په دې مبارکو آيتونو کښې مونږ ته دا وئيلے شوي دي چې مونږه دې دُنيا ته د لږ وخت د پاره راغلي يو، **يوه ورځ د دې ځائے نه د لارې سامان تړل دي او قبر ته کوزيدل دي**، مونږ ته د دې خبرې پته ده خو د مال زيات طلب، حرص او لالچ مونږه غافله کړو، که يو لاکھ ميلاؤ شي نو 2 لاکه غواړو، که 2 لاکه ميلاؤ شي نو د 4 لاکھو خواهش دے، که کروړ پتيان جوړ شو نو د ارب پتي جوړيدو حرص دے، بس صرف په دې قهر اخته يو، نه راته مرګ ياد دے، نه قبر ته کوزيدل ياد دي، نه د نکيرين د پوښتنو فِکر، نه د قبر راټولول ياد دي، نه د قبر تنګيدل، نه د هغه ځائے تيارهٔ، نه د هغه ځائے تنهائي ياده ده، نه د قيامت په ورځ راپاڅيدل ياد دي، نه د هر يو نعمت حساب ورکول ياد دي، آو چې ياد دي نو هَلۡ مِنۡ مَّزِيۡد (يعني نور ميلاؤ شي، نور ميلاؤ شي) نعره ياده ده، بس په دې کښې مشغول يو او د ژوند ورځې او شپې رواني دي تيريږي خو که مونږ ئې ياد اوساتو او که ئې هير کړو، يوه ورځ به حضرت عزرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف راوړي، ساه به مو اوددريږي، آخري سلګۍ به مو راځي او رُوح به د تَن نه جُدا کيږي، بيا به

مونږه تيارۀ قبر ته کوزولے شي، د مال و دولت ډيرے، بينک بيلنس، ګاډي، بنګلے دا هر څه به دلته پاتې شي.

تو نے منصب بھی کوئی پایا تو کیا
گنجِ سیم و زَر بھی ہاتھ آیا تو کیا
قصرِ عالیشان بھی بنوایا تو کیا
دبدبہ بھی اپنا دکھلایا تو کیا

ایک دِن مرنا ہے، آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے، آخر موت ہے

عیش کر غافل نہ تو آرام کر
مال حاصِل کر نہ پیدا نام کر
یادِ حق دُنیا میں صبح و شام کر
جس لئے آیا ہے تو وہ کام کر

ایک دِن مرنا ہے آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جائيداد مه جوړوئ! ګنې بيا به د دُنيا شئ

اے عاشقانِ رَسُول! الله پاک دې مونږه د مال د محبت نه محفوظ کړي. د ايمان مضبوطيا او د اخلاق و کردار صحيح والے په دې کښې دے چې بنده هر وخت مرګ، قبر او آخرت ياد اوساتي خو د دُنيا د مال يو ډير غلط اثر دا دے چې د دې محبت انسان غافله کوي، د مال د محبت په وجه انسان آخرت هيروي، د دُنيا او د دې محبت په زړه کښې کور جوړوي او هم د دُنيا محبت هغه خيز دے کوم چې انسان د ګناهونو او د بدئ ژورې کندې ته غورځوي. څکه زمونږه آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اوفرمائیل: لَا تَتَّخِذُوا الضَّیۡعَةَ فَتَرۡغَبُوا فِی الدُّنۡیَا یعنې (اے خلقو...!) جائیداد مه جوړوئ! ګنې نو بیا به د دُنیا شئ. [1]

## مال وړاندې اولیږئ...!!

په حدیثِ پاک کښې دي: یو ځل یو کَس په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په ما څه شوي دي چې زه مرګ نه خوښووم (یعنې زما زړه د دُنیا په لور مائل دے، زه په خپل زړه کښې د آخرت په لور میلان کم ساتم او مرګ کوم چې جنت ته د رسیدو لاره ده، زما دا مرګ خوښ نه دے). سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: آیا ستاسو سره مال شته؟ عرض ئې اوکړو: آو جي! اوئې فرمائیل: خپل مال (د آخرت د پاره د صدقې او خیرات کولو سره) وړاندې اولیږه! ځکه چې د انسان زړه د خپل دمال سره وي، که دے خپل مال وړاندې اولیږي (یعنې صدقه او خیرات ئې کړي) نو د هغه سره میلاویدل غواړي او که مال وروستو پریږدي نو د هغه سره وروستو پاتې کیدل غواړي. [2]

ہمارے دل سے نکل جائے الفتِ دنیا | دے دل میں عشقِ مُحَمَّد مرے رچا یاربّ! [3]

## مال مو جمع کړو خو...!!

یو ځل د یو نیک بزرګ په خدمت کښې عرض اوکړے شو: فلانکے کَس مال جمع کوي. د الله پاک نیک بنده ډیره ښکلې خبره اوفرمائیله، اوئې فرمائیل: هغه مال خو جمع

---

[1]... ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:557، حدیث:2328۔

[2]... الزہد لابن المبارک، جز:5، صفحہ:224، حدیث:634۔

[3]... وسائل بخشش، صفحہ:82۔

کوي، آيا د دې مال خرچ کولو د پاره ورځې هم جمع کوي.[1]

دا يو ښکاره حقيقت دے، مال چې تر څو پورې زمونږ سره وي، که خزانے ډکې وي، مونږ د کروړونو روپو مالکان يو، دا مال مونږ له بالکل نفع نشي راکولے، د مال فائده هغه وخت وي چې کله انسان دا لګوي او د مال د لګولو د پاره وخت پکار وي، ژوند پکار وي! چې ساه ګانے رواني وي، بيا انسان د مال نه فائده اخستے شي خو معامله داسې ده چې انسان په مال پسې منډې وهي، د روپۍ روپۍ سره مال جمع کوي، د ده په خزانه کښې مال زياتيږي، بينک بيلنس زياتيږي خو آه! د دې سره سره ژوند کميږي. دلته خزانه ډکيږي، هلته ئې ژوند ختم شوے وي.

سیٹھ جی کو فکر تھی کہ اِک اِک کے دَس دَس کیجئے!
موت آ پہنچی کہ مسٹر جان واپس کیجئے!

بيا دوه کارونه کيږي: **(1)** د مال سره محبت کولو والا، د مال په حِرص کښې آخرت هيرولو والا خالي لاسونه قبر ته کوزيږي **(2)** د هغه جمع کړے شوے مال د هغه وارثان ئې په مزے سره الوځوي. آه!

چِہ چیزے بہ چِہ چیزے رَفت

يعنې هئ افسوس! څومره قيمتي ژوند، په څومره سپک کار کښې تير شو...!!

افسوس گھٹتی جا رہی ہے زِندگی پر مَیں | دبا ہی جاتا ہوں عِصیاں کے بار میں[2]

د مال په طلب کښې دومره ورک شو چې د لمُونځ د پاره خو وخت ميلاؤ نه شو، د دنيا

[1] ... مجموع رسائل ابن رجب، جلد:1، صفحه:65۔

[2] ... وسائل بخشش، صفحه:274۔

ګټلو دومره فِکر وو چې د قرآن د تلاوت موقع میلاؤ نه شوه، ټول ژوند په مال ګټلو او جمع کولو کښې تیر شو، آه! افسوس...!! د آخرت د پاره خو مو هیڅ نه دي کړي، دنیا هم د لاسو نه اووتله، اوس به خالي لاس د قبر په تیرو کښې پراته یو.

اللہ ! حُبِّ دنیا سے تُو مجھے بچانا سائل ہوں یا خدامَیں عشقِ محمدی کا
کچھ نیکیاں کمالے جلد آخِرت بنالے کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا[1]

## د قبر ملګرے څوک...؟

د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د انسان 3 دوستان دي: (1) یو هغه کوم چې د رُوح تر وتو پورې د هغه سره وي
(2) دویم تر قبره پورې د هغه سره ځي او
(3) دریم د حشر تر میدانه پورې ملګرے وي. د انسان هغه دوست کوم چې تر مرګه پورې د هغه سره وي، هغه د هغه مال دے او د انسان هغه دوست کوم چې د هغه سره تر قبره پورې ځي، هغه د هغه کور والا دي او د انسان هغه وفادار دوست کوم چې د حشر تر میدانه پورې ملګرے وي، هغه د هغه عمل دے.[2]

دولتِ دنیا کے پیچھے تُو نہ جا — آخِرت میں مال کا ہے کام کیا!
مالِ دنیا دوجہاں میں ہے وَبال — کام آئے گا نہ پیشِ ذوالجلال[3]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... وسائل بخشش، صفحه: 178 ملتقطاً۔
[2]... بخاری، کتاب الرقاق، باب سکرات الموت، صفحه: 1599، حدیث: 6514 بتغیر قلیل۔
[3]... وسائلِ بخشش، صفحه: 709، 710۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له د مال د حِرص او محبت نه بچ کيدل پکار دي، څومره ګټه چې ضروري ده، هغه همره ګټئ، څومره جمع کول چې ضروري دي، هم هغه همره جمع کوئ، البته د دې په محبت کښې شپه ورځ بس د مال د ګټلو او جمع کولو په فِکر کښې اوسيدل، د مال د محبت په **سبب** آخرت هيرول، د نيک اعمال نه لرې تښتيدل سراسر ناپوهي ده. الله پاک دې مونږه د مال د حرص نه محفوظ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني کورسونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دُنيا او د دې د عيش و عِشرت نه د ځان خلاصولو، د زُهد او تقوىٰ د نعمت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ! 12 ديني کارونه هم ښه په شوق کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دُنيا او آخرت ډير خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدني کورسونه** هم دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❁دعوتِ اسلامي د عِلمِ دين نُور تقسيموونکے ديني تحريك دے ❁ کم نه کم فرض علمِ دين لکه اودس، غُسل، لمُونځ، د جنازے لمُونځ، روژه، زکوٰة وغيره ضروري مسائل خو دې هر مسلمان زده کړي، دعوتِ اسلامي د دې اراده ساتي ❁د دې مقصد لاندې دعوتِ اسلامي مختصر کورسونه کوي لکه **(1)** 7 ورځې **فيضانِ نماز کورس** **(2)** 7ورځې 12 **ديني کارونو کورس** **(3)** 7 ورځې **اصلاحِ اعمال کورس**. او نور هم ډير کورسونه دي. تاسو هم دا مختصر کورسونه اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به در نصيب شي. ❁دين زده کړئ نو

الله پاك به راضي شي ❀ په رزق کښې به برکت وي ❀ د علمِ دین خزانه به میلاؤ شي ❀ د نیکئ کولو ذهن به جوړ شي ❀ د الله پاك عبادت به په صحیح او دُرُست انداز سره اوکړئ نو اِنْ شَآءَالله الْكَرِيم! کرم او کرم به اوشي ❀ د مختصر کورسونو دا فائده هم ده چې انسان په غیر محسوس انداز کښې ډیر څه زده کوي ❀ کار هم نه ورانیږي او په یو څو ورځو کښې ډیر خاص معلومات میلاویږي ❀ لکه لمُونځ دے، د دې احکام او مسائل څو دومره دي چې کتابونه ترې ډك دي، مونږ به دومره غټ غټ کتابونه څنګه لولو؟ دومره وخت به څنګه اوباسو؟ په دې وجه آسانه طریقه ده چې 7 ورځې فیضانِ نماز کورس اوکړو، اِنْ شَآءَالله الْكَرِيم! د دې غټو غټو کتابونو خلاصه به مونږ ته زده کړے شي دې خپل برکتونه دي. ❀ بیا به دیني ماحول هم میلاؤ شي ❀ د نیك خلقو صحبت به نصیب شي، د

## د 63 ورځې کورس ئې ژوند بدل کړو

د لاهور یو اسلامي ورور بیان دے: د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره د تعلق ساتلو نه وړاندې زما ژوند فضول د ګناهونو نه ډک کارونو او بدو دوستانو په صحبت کښې تیریدلو. بیا داسې اوشو چې یو اسلامي ورور ما ته د **63 ورځو مدني تربیتي کورس** کښې د داخله اخستلو ترغیب راکړو. د هغوئي پوهه کول زما په کار راغله او په خوش قسمتئ سره ما په **63 ورځو مدني تربیتي کورس** داخله واخستله. په کورس کښې ما ته د زړه سکون نصیب شو، د فرض لمُونځونو پابندي کولو سره سره د نفل عبادت هم ذِهن جوړ شو، د اوداسه، غُسل او لمُونځ وغیره ضروري مسائل مې زده کړل، د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت سره مې دِیني ذِهن هم جوړ شو، ما په خپل مخ باندې د سُنت مطابق

کېره پرېښودونه او د عمامې شریف تاج مې هم په سر کړو.

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا مدنی ماحول | ہے فَیضانِ غوث ورضا مدنی ماحول |
| تمہیں لُطف آ جائے گا زندگی کا | قریب آ کے دیکھو ذرا مدنی ماحول [1] |

**نوټ**: په دعوتِ اسلامي کښې د **مدني ماحول** په ځائے **ديني ماحول** اصطلاح وئيلے کيږي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## روحاني علاج او استخاره موبائل ايپلي کيشن

**اے عاشقانِ رسول!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي آئی. ټي ډيپارټمنټ له طرفه د عوامو د آسانئ او د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخوارئ د پاره يو موبائل ايپلي کيشن Online Rohani ilaj & istikhara (په نوم د "آن لائن روحاني علاج اينډ استخاره) جوړ کړے دے، د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو ❁ آن لائن استِخاره کولے شئ، ❁ د خپلو بيمارو، بدنظرئ، آسيب، جادو وغيره مسائلو حل کولو د پاره فِی سَبِيلِ اللّٰه تعويزونه حاصلولے شئ ❁ آن لائن کاټ هم کولے شئ. **نور په دې ايپلي کيشن کښې** ❁ بيمارئ ❁ غُربت ❁ غم ❁ پريشاني او ❁ آفتونو مصيبتونو وغيره نه د حفاظت مختلف اَوراد و ظائف هم شامِل دي. تاسو په خپل اسمارټ موبائل کښې دا اَيپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او انسټال ئې کړئ! بخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هُم د دے ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:646ملتقطاً۔

ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## تپوس کول سُنَّت د مصطفٰے دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک: (1) څوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جَنَّت په باغونو کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې تر شپې پورې د هغه د پاره دعا کوي.[2] (2) څوک چې د ثواب په اُمّيد د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه د دوزخ نه د 70 کالو فاصلے پورې لرې کولے شي.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! د مريض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰے بلکه سُنَّتِ انبيا دے ❁ د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې کله به ورته د يو صحابي د ناروغتيا پته اولګيده نو هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❁ که چرې يو کَس به تر دريو ورځو پورې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به

---

[1]…مشکوٰة، کتابُ:الْاِیمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
[2]…شعب الایمان، مریض کی عیادت کا باب، جلد:6، صفحه:531، حديث:9171۔
[3]…ابو داؤد، کتاب:جنائز، باب:وضو میں عیادت کی فضیلت، صفحه:500، حديث:3097۔

ناروغه وو نو د هغه تپوس له به تللو [1] ❀ او كه چرې د تپوس كولو د پاره به د مدينې منورې آخري سر ته هم تشريف وړل وو نو تشريف به ئې وړلو او د خپلو صحابهٔ كرامو تپوس به ئې كولو.[2] د قرآنِ كريم مشهور مفسر، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اخلاقِ كريمه كښې دي چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب كور ته د تپوس د پاره تشريف وړلو.[3] د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارك به دا وو چې كله به ئې د يو مريض د تپوس د پاره تشريف وړلو نو دا به ئې فرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله (يعني: هيڅ خبره نه ده كه چرې الله پاك اوغوښتل نو دا مرض د (ګناهونو) نه پاك كوونكے دے) د يو اعرابي [د كلي اوسيدونكي] د تپوس د پاره چې ئې تشريف يوړلو نو هم دا ئې اوفرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله.[4]

د تپوس او نور ډير روحاني علاج په باره كښې د نورو معلوماتو د پاره د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **بيمار عابد** اولولئ.

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د **مكتبة المَدينه بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** او رساله **بيمار عابد** واخلئ او

---

[1]... مسند ابی يعلى، جلد:3، صفحه: 141، حديث: 3429۔
[2]... مسلم، كتاب: جنائز، مريض كى عيادت كا باب، صفحه: 331، حديث: 925 خلاصةً۔
[3]... مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحه: 407۔
[4]... بُخارى، كتاب: المناقب، صفحه: 919، حديث: 3616۔

اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

لُوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو [1]

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[2] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:669 ملتقطًا۔

2 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

1 ... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵